PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسی

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسي ته امر کوي چي امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چي کله مو د خلکو په مینځ کي پریکړه او حکم کاو، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسي ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکی او ښه لیدونکي دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت پنځم کال، ۴۱ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۰ مه ګڼه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د کب ۳ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د ربیع الثانی ۲۲ مه د ۲۰۱۴ م د فبروری ۲۲ مه

په ننګرهار کې د اصلاحاتو او همپالنې ټیم ستره کمپاینیزه غونډه وکړه

مونږ په هېواد کې ښه حکومتولي او دقانون دحاکمیت باوري کول غواړو. (انجنیر محمدخان)

د مجاهدینو دا یووالی به د شمال او جنوب ترمنځ فاصلې ختمې کړي. (مـولـوي سـرفـراز)

شهادت، عبدالله کامه وال:
د سلواغې په۲۸ مه سه شنبې په ورځ د جلال اباد ښار په شېرزي لوبغالي کې د ډاکتر عبدالله عبدالله په پلوی یوه لویه غونډه چې د ننګرهار، کونړ، لـغـمـان او نـورسـتـان زرګـونـو په یاده غونډه کې د ولسمشریزو اوسیدونکو په کې ګډون کړی و، جوړه کړې شوې وه. تاکنو نوماند ډاکتر عبدالله عبدالله او د هغه مرستیالانو انجنیر محمد خان او استاد محمد محقق ... (۴ مخ)

افغانستان د پاکستان وروستي تورونه رد کړل

کابل، رسنۍ:
د افغانستان حکومت د پاکستان هغه ادعا رد کړې ده، چې وایي ۲۳ پاکستاني پوځیان د افغانستان په خاوره کې وژل شوي دي. افغان لوری دا ادعا ردوي.
دغه احتجاج په امنیتي چارو کې د پاکستان د لومړي وزیر سلاکار سرتاج عزیز د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ضرار احمد مقبل عثماني ته په مالدیپ کې وړاندې کړ.
ښاغلي عزیز او ښاغلي عثماني د مالدیپ په مالي کې د جنوبي اسیا د سیمه ییزې همکارۍ په غونډه کې سره وکتل. دوی دواړه د وزیرانو په کچه دې غونډې ته ورغلي وو.
سرتاج عزیز خپل افغان سیال ته وریاده کړه چې څه موده مخکې د انګرېې په درې اړخیزه غونډه کې هوکړه وشوه چې دواړه هېوادونه به نه یوازې د یو بل په چارو کې لاس وهنه نه کوي، بلکه د هغو اورپکو پرضد به هم ګامونه اخلي چې ... (۴ مخ)

چاته رایه؟!

(س، ۲)

۲۶ دلو ۱۳۶۷؛

مجاهدین افغان فاتح شدند و روسها و ایادی شان شکست فضیحتبار خوردند

فدا محمد فایض

این حقیقت انکار ناپذیر است که روسها در افغانستان شکست خوردند و بالاخره میخاییل گورباچف آخرین زمامدار شوروی بعد از اعمال قوت فراوان شکست خود را پذیرفت و افغانستان را «زخم خونین» برای شوروی توصیف کرد و تصمیم به خروج از افغانستان گرفت. گرچه سران حزب کمونست افغانستان به مسکو رفته الحاح کردند که آنها را تنها نگذارند؛ ولی گورباچف تصمیم خود را گرفته بود. (ص ۳)

ارزیابی جدید:

پلان کاهش نیروهای امنیتی افغان باید عملی نشود

در این ارزیابی تجویز شده است که بر علاوهء ۲۹ هزار پرسونل اضافی، تعداد نیروهای امنیتی افغانستان باید حداقل به ۳۴۴ هزار تن برسد و مصارف آن ها که در حال حاضر ۴.۱ ملیارد دالر است به ۵ تا ۶ ملیارد دالر افزایش داده شود.

کابل، رسانه ها:
وزارت دفاع ایالات متحده، امریکا می گوید، ارزیابی جدید را در مورد نیروهای امنیتی افغانستان بدست آورده است، اما نمی تواند در مورد آن تبصره کند.
جان کربی (John Kirby) سخنگوی وزارت دفاع امریکا یا پنتاگون در یک کنفرانس خبری در واشنگتن تایید کرد که تا هنوز هم تهدیدهای امنیتی ناشی از طالبان مسلح وجود دارد.
جان کربی گفته است:
"نه تنها ما، بلکه متحدان ما و مردم افغانستان نمی توانند از تهدیدهای چشم پوشی کنند که از ناحیه، طالبان وجود دارد." (ص ۴)

راسموسن:

حامدکرزی تفاهمنامهء امنیتی را امضا نخواهد کرد

کابل، رسانه ها:
اندرس فوګ راسموسن سرمنشی پیمان ناتو روز پنجشنبه در مصاحبه با آژانس خبری اسوشیتد پرس با ابراز اینکه در امضای تفاهمنامهء دوجانبه، امنیتی و دفاعی بین افغانستان و ایالات متحده، امریکا پیشرفت دیده نمی شود، گفت:
"به عقیدهء من حامد کرزی این تفاهمنامه را امضا نخواهد کرد و کسی که جانشین وی می شود در مورد آن ... (ص ۴)

د حزب اسلامي افغانستان اعلامیه

د خبري سرچینو په حواله په دې نژدې ورځو کې د طالبانو یو شمېر مهم مشران په متحده عربي اماراتو کې سره جرګه شوي چې د افغانستان روان جګړه ییز حالت ته د حل یوه سوله ییزه لاره ومومي، د کوئټې شورا د یوه غړی آغاجان معتصم په حواله چې طالبان نور د جنګ د تداوم ضرورت نه ویني او نه غواړي چې مسلمان د مسلمان او افغان د افغان په لاس ووژل شي.

حزب اسلامي افغانستان د هېواد د یوه مطرح سیاسي قوت په حیث ددغسې یوه معقول حرکت د پیل هرکلی کوي او د پرمختګ هیله یې لري، حزب اسلامي افغانستان پر دې باور دی چې زموږ هېواد سولې ته بېړنۍ اړتیا لري او ټول اختلافات د سوله ییزو مذاکراتو له لارې حل کیدای شي.

(په هېواد کې د یوې تلپاتې سولې او اسلامي ورورولئ د ټینګښت په هیله)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

انتخابات آینده و تشویش از ناحیهٔ تقلب مهندسی شده

کمپاین انتخاباتی که بتاریخ ۱۳ / ۱۱ / ۱۳۹۲ آغاز شده، تا مدت دو ماه ادامه خواهد داشت، با گذشت هر روز کمپاین قوت میگیرد و هر نامزد در فکر پیروزی خویش است، اما اکثریت کاندیداها از تقلب مهندسی شده تشویش دارند. گرچه شاید در هیچ کشور دنیا شاهد انتخابات صد در صد شفاف نباشیم و دور نیست که در انتخابات آیندهٔ کشور هم مواردی از تقلب بوقوع بپیوندد؛ زیرا عوامل زیادی موجود است که زمینه را برای اینگونه حرکتها مهیا سازد؛ که موارد کوچک شاید قابل اغماض باشد: اما تقلبی که بر نتایج کلی انتخابات اثر منفی بگذارد شاید برای هیچیک از کاندیداها قابل تحمل نباشد. انتخابات زمانی مشروع است که عادلانه، بیطرفانه و شفاف باشد، اگر در انتخابات بگونه یی مداخله صورت بگیرد، این مداخله پنهان هم نمیماند و جداً قابل احساس است؛ ولی نتیجهٔ منفی آن، بر مشروعیت انتخابات اثر منفی خواهد گذاشت، در حالی که ما به یک حکومت مشروع و نیرومند نیازمند هستیم؛ نظام و اداره یی که واقعاً از حمایت مردمی بهره مند باشد.

افغانستان چلنجهای زیادی فراروی خود دارد و باید این چلنجها از سر راه برداشته شود و این کار زمانی ممکن است که ما یک ادارهٔ نیرومند داشته باشیم و ادارهٔ نیرومند زمانی ممکن است که یک تیم انتخاباتی از راه عدم مداخله در نتیجهٔ انتخابات شفاف بمیان آید، در آن صورت مردم هم آنرا ادارهٔ نمایندهٔ خود میداند و از آن حمایت میکند.

حکومت موجود هم در نتیجهٔ انتخاباتی بمیان آمد که متأسفانه مهر تقلب بر ناصیه اش زده شد، و دولتی که در نتیجهٔ این انتخابات بمیان آمد مجبور شد یک سلسله مصلحتها را که شاید به نفع نبود، درنظر بگیرد. البته مصلحت زمانی خوشایند است که عمومی و منفعت ملی در آن نهفته باشد؛ ولی آنچه با منافع ملی کشور در تضاد باشد، هیچگاه مشروع شمرده شده نمیتواند. از همینجاست که شفافیت مورد سوال است، عدالت پایمال شده است، حقوق مردم تلف شده است و در بیشتر موارد قانون پامال شده و روابط جای ضوابط را گرفته است.

ما اینبار به دور سوم انتخابات ریاست جمهوری میرویم، باید دیگر آن مشکلاتی که موجود بود از بین برده شود، مصلحتهایی که منافع ملی ما را نقض میکند، باید دیگر کنار گذاشته شود، شفافیت باید جای تقلب را بگیرد، در همهٔ موارد باید ظرفیتها مورد اعتبار باشد، اگر ما نیاز داریم که کشور ما در تمام ساحات بپای خود بایستد، ما نیاز به دولتی نیرومند داریم و باز هم میگوییم که یک دولت نیرومند زمانی بوجود آمده میتواند، که در نتیجهٔ انتخابات شفاف بمیان آید و ملت قلباً از آن پشتیبانی کند، بناءً تأکید ما بر انتخابات آزاد بیطرفانه و عادلانه است تا بتوانیم در آینده یک نظام واقعاً نماینده و نیرومند داشته باشیم تا با مشکلات و چلنجهای موجود دست و پنجه نرم کند.

ما از همین حالا احساس میکنیم که شاید تقلبات مهندسی شده در کمین انتخابات نشسته باشد، خیلی از افرادی که از صف مبارزاتی خود جدا شده اند، نیز به همین امید هستند که چگونه بتوانند با تیمی معامله کنند که شاید در همین انتظار بسر ببرند که از راه تقلب مهندسی شده، به پیروزی برسند؛ ولی بهمه حال دیگر ملت بیدار شده است و این تقلبات راه به جایی نخواهد برد.

چاته رایه؟

فروغګر

زه د افغانستان د تاریخ د لوړو ژورو هغه لالهانده مسافر یم چې په دې سفر کې مې ددې تاریخ د هر کرکټر په څنګ کې ددې لپاره دمه شوی یم چې دهغه د کارنامو شاته لومړی دده تاریخي سابقه، کورنی، کورنی اصالت، اخلاق او په ټولنه کې نقش وپیژنم: انګریزان له افغانانو سره په ۱۰۰ کلنه جګړه کې لکه چې په نیمه وچه کې یې چودهریان، جاګیرداران او سیټهان پرځای پرېښودل او تر ننه پورې پر هغې ټولنې حکومت کوي او تراوسه پورې خپل هر دستور له انګریز سرکار نه اخلي، دلته په افغانستان کې یې هم د افغانستان ټولنې، روانشناسی او دیني تمایلاتو ته په کتو، شخصیتونه وتراشل او کورنی یې له نورو هېوادونو راوستل او دځایی خلکو له جملې یې هم داسې کورني وټاکلی چې دهغوی په مټ وشي کولی، دلته ملکوک الطوایفي حکومتونه جوړ کړي او ددې پلان په نتیجه کې دوې لارې ځان ته پرانیزي: یوه دا چې د افغانستان ملي وحدت او د مرکزي حکومتونو پیاوړتیا تل وننګولی شي او بل دا چې ددغو کورنیو له لارې خپل استخباراتي تحرکات تنظیم کړي. تر هغه ځایه چې زه تجربه لرم ددې منافقانه سیاست دا پلان له هماغه وخته راپه دې خوا هماغسی د افغان حکومتونو په ټولو دورو کې چلیده، د افغان اولس د جهاد په پېر کې هم دغه پلان د افغان جهاد د ناکامولو لپاره ښه په درز کې وچلید او د مجاهدینو د کمزوري کولو لپاره یې درې داسې مراکز پرانستل چې هلته به وسلې د جهاد لپاره وروړل کیدې، مګر د دغه مرکز چلوونکو به په ترې منګل کې خرڅولی او پیسې به یې د قوماندان او استخداموونکو ترمنځ ویشل کیده، هغه وسله چې ښایي مجاهد ته په لاس ورغلی وای او په افغانستان کې یې د اشغالګر پوځ پر ضد کارولی وای، مګر دا هتی ددې لپاره جوړې شوې وې چې هم افغان اولس د تبیلغ له لارې ګوښه ګیری ته وهڅوي او هم هلته د وسلو د نه لېږد په نتیجه کې د وسلو د کمښت تشه رامنځ ته کړي...

کله به چې د جهاد، مجاهدینو، روسانو، د افغانستان ګوډاګی حکومت په اړه کومه بین المللي غونډه یا کانفرانس جوړیده، بیا د تمی پرخلاف همدغو هټیوالو به په کې ډیره ونډه درلوده او ډېر امتیازات به یې هم ترلاسه کول.

د جهاد له بري نه وروسته هم، دوی د غټو امتیازاتو خاوندان شول او د طالبانو د حکومت پرمهال چې هر څه تر پوښتنې لاندې تللي وو، ددې خپلو هغو مراجعو ته لاړل چې قومانده یې ترې اخیسته، مګر د بین المللي ځواکونو په راتګ سره بیا د امتیازاتو د ترلاسه کولو لپاره هېواد ته راغلل، ددولت په غټو چوکیو کې یې دندې ترلاسه کړې، ان، یو یې داسې وو چې (۶۰) تنه ساتونکی او ۴ ګولی ضد کروزینونه یې درلودل او نه پوهېږم (۸) چوکیو کې یې کار کاوه او که (۷) کې...

اوس چې د موجود حکومت دوره مخ په ختمیدو ده او هیله ده چې د ۱۳۹۳ کال د حمل په ۱۶ نېټه نوې ټاکنې پیل شي دا ابن الوقت او فاسد وګړي د ډیرو نوماندانو وزرونه جوړ شوي دي او په خپلو څرګندونو کې هغو ځواکونو ته کنځلی کوي چې له روسانو سره د جګړې، مبارزې او جهاد پرمهال د سرښندنو او قربانیو سرلاري ول، که چېرې موږ شعور ولرو او د تېرو درېو لسیزو له پېښو مو عبرت اخیستی وي؛ نو ښایي د خپل ملت د ویښتابه په عمل کې تر هر چا مخکښ اوسو او ملت پوه کړو چې نور پر دغو عناصرو باور مه کوئ. هغسې چاته رایه ورکړئ چې هم ستاسې ددین او وطن غم لري هم ستاسې د کلتور او فرهنګ او هم ستاسې د شخصي او اجتماعي ژوند د سوکالۍ ضمانت کولای شي، دا ټاکنې یا انتخاباتي عمل ستاسې راتلونکی تضمینوي، که چېرته په دغو ټاکنو کې هغه چاته رایه ورکړی چې ددې عظیم ملت د مسؤولیتونو درانه بارونه وړی شي او په خپله دا ځواک ولري او له پردیو سره جوړ جاړې ونه لري، چې ستاسې چاری سنبالې کړي او د یو ښکلي ګاندې زیری دربانډې وکړي؛ نو خپل مسؤولیت به مو ادا کړی وي.

هو! همدغسې وګړی ستاسې مشرتوب کولای شي چې ښه تخصص ولري، ښه سابقه ولري، په خپل فرهنګ، ملت او وطن ښه پوهېږي او ددغو غوره توبونو اصالت ښه پاللی شي..

هغه چاته رایه ورکړی چې دین او ایمان ولري او د عقیدی له تل څخه ددې ملت ستونزې درک کولی شي..

هغه چاته رایه ورکړئ چې علم ولري، بصیرت ولري، د اسلام مقدس دین پر اصولو عمل وکړي..

داسې چاته رایه ورکړئ چې له پردیو سره په معاملاتو کې ستاسې وطن، هیلې، پت، عزت او ناموس نه خرڅوي او معامله پرې نه کوي.

ناهیلې کېږی مه په سړه سینه او مطمئن زړه پرمخ ولاړ شئ، خدای ستاسې مرسته کوي او پر خپلو اهدافو پوره باور ولرئ، هله به کامیاب شی..

هغه چاته رایه ورکړي چې هم په دین پوهېږي او هم د دنیا په چارو، دا صلاحیتونه او استعدادونه ولري چې د ملي وحدت په تحکیم کې، ستاسې په رهبری او پرمختګ کې او همدارنګه د هېواد د رغون ټولی چارې سنبالی کړی شي.. موږ دلته د قدرت وږي ګورو چې شپه ورځ لګیا دي، ددې هڅه کوي چې دا ملت یو ځل بیا وغولوي او ددوی پر رایو باندې ځان قدرت ته ورسوي او بیا ټول ملت، هېواد او دین او فرهنګ شاته وغورځوي او یا ددې ملت پر سرمیچنې وکرځوي، هوښیار اوسئ چې منحرف افراد او وګړي په ډېر زیرکتیا ځانونه د ملت خواخوږي ګڼي او په خپلو خبرو اترو کې یې هم ډیر اولسونه غولولي دي، مګر تاسې په ړندو سترګو له چاسره مه ځئ، دوی هماغه زمونږ د ملت زاړه دښمنان دي چې یو ځل خو یې دا ملت په خاورو او وینو کې ورغړاوه، خو خطرناکه خبره داده چې دوی د ملت خصوصاً هغو ځوانانو پر افکارو مسلط کېږي چې ددوی له تاریخي سابقې بی خبره دی. تاسې باید خپل ټول توان په کار واچوی چې دامحیل عناصر وپیژنئ او په ناکامولو کې یې د اسلام د مبارک دین احکام عملي کړي..

وروستیو جریاناتو ته په کتو متوجه شئ چې بهرمیشتي ټولې منحرفې ډلې راروانې دي او د خپلې خوښې د محور د کامیابولو هلې ځلې کوي، دوی د کمونیزم له ناکامیدو وروسته د «لینن» له توصیې سره سم «قومي» «ژبني» او په ټولیزه کې ناسیونالیزم ته مخه کړې او د قوم، قومیت په نامه هم خلک ځان ته جلبوي، خورا خطرناک توپان روان دی او که خدای مه کړه دا ځل بیا دوی د انتخاباتو له لارې زمونږ د ملت پر تقدیر مسلط شول، د سیاسي قتلونو، وژنو، فحشاء، بی دینې او نورو اجتماعي منکراتو یوه بله څپه لړی به پیل شي او هېواد به مو یو ځل بیا د خپلو بچیانو د فردي او اجتماعي وژنو شاهد وي..

۲۶ دلو ۱۳۶۷؛

مجاهدین افغان فاتح شدند و روسها و ایادی شان شکست فضیحتبار خوردند

تاریخ معلم بزرگ است و باید از تاریخ آموخت تا بنابر تأیید قول مؤرخی که اشتباهات را تکرار نکنیم. درین شکی نیست که تاریخ هر کشور فرود و فرازهای خود را دارد؛ اما آنقدر که تاریخ کشور ما فراز و نشیب دارد، شاید هیچ کشور جهان نتواند به پایهٔ آن برسد. کشور ما را مدفن امپراتوریها نام کرده اند و این تعبیر خیلی بجایی است. از اسکندر مقدونی که در قرون قبل از میلاد میزیست تا به امروز چه هم زورمندان منطقوی و چه هم زورمندان جهانی باری به این کشور شیران سرزده و در فکر تسخیر آن برآمده اند؛ ولی لله الحمد که همهٔ این زورمندان بالاخره شکست خورده ناامید برگشته اند، و ملت افغان سرافراز باقی مانده است.

در بین این یورشها، یورشهای انگلیس و روسها از آن جهت هم مورد بحث است که با قرن ما نزدیک اند. انگلیس سه بار در مواجهه با ملت ما شکست خورد و بالاخره این شکست ها باعث آن شد که دست تجاوز آن از افغانستان، نیم قارهٔ هند، شرق میانه و بالاخره تمام براعظم آسیا کوتاه شود. روسها هم که هرگز شکست خود را تصور نمیکردند، بالاخره در برابر ملت مجاهد و قهرمان ما زانو زد و شکست خورد و خداوند فتح و نصرت نهایی را شامل حال ملت مجاهد افغانستان گردانید.

در پهلوی این حقایق تاریخی که به نصرت پروردگار همیشه ما مردم افغانستان در مصافها با دشمنان پیروز بوده ایم، این حقیقت تلخ تاریخی را هم باید بپذیریم که ما اکثر و بیشتر در میدان سیاست بازی را باخته ایم یعنی آنچه را بقیمت خون خود بدست آورده ایم، آنرا بر سر میز سیاست از دست داده ایم.

روسها در افغانستان چنان شکست خوردند که حتی امپراتوری خود را از دست دادند و ایدیالوژی مارکسیزم هم شکست خورد. همچنان ایادی مسکو نیز شکست خوردند. گرچه اکنون که وضع را بنفع خود، دیدند ازین حقیقت انکار میکنند که در برابر مجاهدین سربکف ما شکست خورده اند؛ ولی حقیقت، حقیقت است و هیچکس نمیتواند آنرا با انکار لجوجانه کتمان کند.

متأسفانه ما از دو ناحیه ضربه خوردیم:

۱- اختلاف؛ که بیشتر این اختلافات سلیقه یی بود ورنه مجاهدین در بین خود از لحاظ عقیده و آرمان کدام اختلافی نداشتند.

۲- ضعف مدیریت که متأسفانه نتوانستیم آنچنان که لازم بود از همهٔ امور خود مدیریت کنیم.

همین دو عامل باعث آن شد که نظام اسلامی که آرمان همهٔ مجاهدین و همهٔ ملت مسلمان افغانستان بود تشکیل شده نتواند. سیاستهای گاه آشتی و گام ناراض زمینه را برای آن مهیا ساخت تا دشمنان جهاد و مجاهد، چه داخلی، چه منطقوی و چه جهانی از آن نفع ببرد. اگر ما میتوانستیم بر وقت و زمانش دست وحدت و یکپارچگی بدهیم هیچکس نمیتوانست فراراه نظامی که همهٔ ملت از آن پشتیبانی میکرد مشکلاتی ایجاد کند. دشمنان خارجی ما طبق مقولهٔ مشهور انگلیس که «تفرقه بینداز و حکومت کن» عمل کردند، در تفرق ما نقش عمده یی ایفا کردند و وقتی دشمنان داخلی جهاد و مجاهد آنانی که سالها در رکاب کا جی بی و جی آر یو دویده بودند، فضا را به نفع خود دیدند، تا جایی که امروز دیده میشود که از هر سو حتی از بیرون به کشور بر میگردند و برگرد یک کاندیدای ریاست جمهوری تجمع میکنند تا به اینگونه که اگر بتوانند بار دیگر بصورت غیر مستقیم خود را به اقتدار برسانند؛ زیرا اینبار کسی حق اعتراض را هم نخواهد داشت چون از طریق انتخابات و رقابت آزاد انتخاباتی بمیان میآیند؛ ولی عده یی از مجاهدین ما سعی میکنند در راه پیروزی تیمهای جهادی بنابر سلیقه های شخصی خود سنگ اندازی کنند. این حرکتها کاملا محسوس است و از امروز نه بلکه از آغاز قابل احساس بود؛ ولی چنین حرکتها بدون آب ریختن بر آسیاب دشمن دیگر هیچنوع توجیه منطقی نمیتواند داشته باشد. هر قدر مجاهد تضعیف گردد نفع آن به مجاهد دیگر نمیرسد، بلکه دشمن از آن استفاده میکند، شاید اکنون خیلی از دوستان نتایج اختلافات خود را احساس کرده نتوانند؛ ولی اگر خدا نخواسته دشمن از پا افتاده بار دیگر یارای به پا ایستاد شدن را یافت آن وقت خواهند دانست که تصیمهای نادرست به نفع کی و به ضرر کی تمام شد.

بهمه حال تا جایی که ارتباط دارد به جهاد مقدس ما در برابر روسهای متجاوز، این یک افتخار است نه تنها برای ملت ما بلکه برای تمام امت اسلامی و بدون شک که تمام امت اسلامی حتی در دعاهای خود ملت مجاهد و قهرمان افغانستان را فراموش نکردند، حتی آنانی که توفیق یافتند آمدند و در صفوف مجاهدین قرار گرفتند، شهید شدند، مجروح شدند و خانواده های شان به شهدای خود افتخار کردند. اکنون اگر کمونستهای شکست خوردهٔ ساخت مسکو بارها سعی میکنند، درین تلویزیون و آن تلویزیون می نشینند می گویند که ما شکست نخورده ایم آفتاب به دو انگشت پوشیده شده نمیتواند، در صورتی که روسها با آن قوت نظامی خود در افغانستان شکست خوردند و سرافگنده از خاک افغانستان برگشتند و آخرین فرد نظامی شان جنرال گروموف حین عبور از پل حیرتان تعهد سپرد که دیگر هیچگاه به افغانستان برنخواهند گشت پس کدام عقل و منطق میتواند بپذیرد که رژیم داکتر نجیب میتوانست در برابر مجاهدین مقاومت کند و حیات سیاسی خود را حفظ کند؟ اگر او میتوانست مقاومت کند چرا میخواست با استفاده از بینن سیوان نمایندهٔ ملل متحد از کشور فرار کند، که در صورت ناکامی آمد در دفتر ملل متحد پناه گرفت و بالاخره با فضیحت تام کشته شد، و همرهانش به این دل خوش میکنند که او را «شهید» نام کنند در حالی که شهید یک واژه اسلامی است و هیچگاه بر کسی اطلاق شده نمیتواند که یک عمر در برابر اسلام مبارزه کرده باشد و جنگیده باشد.

این حقیقت انکار ناپذیر است که روسها در افغانستان شکست خوردند و بالاخره میخاییل گورباچف آخرین زمامدار شوروی بعد از اعمال قوت فراوان شکست خود را پذیرفت و افغانستان را «زخم خونین» برای شوروی توصیف کرد و تصمیم به خروج از افغانستان گرفت. گرچه سران حزب کمونست افغانستان به مسکو رفته الحاح کردند که آنها را تنها نگذارند؛ ولی گورباچف تصمیم خود را گرفته بود.

روز ۲۶ دلو ۱۳۶۷ روز شکست روسهاست و این افتخار از آن ملت مجاهد افغانستان است. بناءً مجاهدین افغانستان وظیفه حفظ افتخارات خود را دارند، مجاهدین از غوغای رقیبان هراسی ندارند، اگر کمونستها باز هوای بقدرت رسیدن را در سر داشته باشند بار دیگر سرکوب خواهند شد؛ ولی باور داریم که آنها هم از تاریخ فراگرفته باشند، از همینجاست چون دیدند که مسکو شکست خورد و کمونیزم شکست خورد رو به سوی غرب آوردند، اکنون آستانبوس غرب شده اند که سالها علیه آن شعار دادند، من به یاد دارم و شاید هر هموطن ما که در آن دوره حضور داشت بیاد داشته باشد که حتی اجازه نمیدادند کسی رادیو بی بی سی را بشنود، این چرخش یکصدو هشتاد درجه یی خود بمعنای آن است که آنها از دوستان روسی خود نومید شدند چون آنها خود دیگر به زباله دان تاریخ سپرده شدند، پس در فکر پیدا کردن یاداران جدید شدند.

ښه اخلاق د ټولنې ښکلا ده

محمد خلیل

هغه ټولنه ښکلې او په زړه پورې ده چې اوسیدونکي یې د ښه خوي او غوره اخلاقو خاوندان دي. ټول کارونه او مسایل په خوږه ژبه، سره سینه او له یو بل سره د خواخوږۍ پر بنیاد پرمخ وړي.

د اسلام سپیڅلي دین انسانانو ته همداسې ټولنه خوښه کړې ده.

د الله جل جلاله آخري استازی محمد صلی الله علیه وسلم د خپل بعثت اصل مقصد همدا بیان کړی چې زه الله تعالی په دې موخه را استولی یم چې د نړۍ پر مخ ښه او غوره اخلاق رایج کړم.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چې په دې اړه کوم احادیث نقل شوي له هغو نه څو په لاندې ډول دي:

۱- بعثت لاتمم مکارم الاخلاق. (کنزالعمال)

۲- انما بعثت لاتمم مکارم الاخلاق. (کنز العمال)

۳- مکارم الاخلاق من اعمال الجنة.

ژباړه: ۱- زه په دې موخه را استول شوی یم چې غوره اخلاق تر آخري کماله ورسوم.

ژباړه: ۲- بیشکه زه په دې خاطر رالیږل شوی یم چې د غوره اخلاقو د تکمیل فریضه ترسره کړم.

ژباړه: ۳- غوره اخلاق جنت ته د تللو له کارونه څخه دي.

کله چې حضرت ابوذر غفاري (رض) خپل ورور د محمد صلی الله علیه وسلم حضور ته دهغه صلی الله علیه وسلم د دعوت د کارونو د معلومولو لپاره واستاو چې وګوري خلکو ته دڅه بلنه ورکوي؛ نو هغه د واپسۍ پر وخت خپل ورور ابوذر غفاري رضی الله عنه ته وویل: ما هغه صلی الله علیه وسلم ولید چې خلکو ته یې د غوره اخلاقو د خپلولو امر کاوه. (کنزالعمال)

په قرآن کریم کې الله تعالی د محمد صلی الله علیه وسلم د رالیږلو لوی مقصد هم څه داسې بیان کړی دی:

ژباړه: ((دا کره خبره ده چې الله پاک له مؤمنانو سره ډیره لویه ښېګڼه کړې ده چې دهغوی یو تن یې رسول ورولیږه چې دهغه ایتونه پرې لولي، پاکوي یې، کتاب او حکمت ورښایي که څه هم هغوی له رسول څخه وړاندې ښکاره بې لیارې وو.)) (آل عمران: ۱۶۴)

له قرآن کریم او احادیثو نه دا تر لاسه کېږي چې محمد صلی الله علیه وسلم په دې خاطر استول شوی چې د خلکو کارونه ته صحیح سمت ورکړي، له هغوی نه د بدو اخلاقو جرړې ختمې او پرځای یې ښه اخلاق او سلیقې ته وده ورکړي. هغه صلی الله علیه وسلم پخپل ژوند کې د خپل قول او عمل له لارې د غوره اخلاقو بشپړ فهرست تیار او مؤمنانو ته یې دهغه د خپلولو لارښوونه وکړه.

حضرت عبدالله بن مبارک (رح) د ښو اخلاقو تفسیر داسې کړی دی:

((هو طلاقة الوجه و بذل المعروف و کف الاذی))

ښه اخلاق دادی چې له خلکو سره په پراخه وچولی خبرې وشي، مال او پیسې ولګول شي او چاته تکلیف ونه رسول شي.

حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص (رض) فرمایي چې: د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم کله هم له خپلې خولې د بې حیایۍ خبرې نه دي ایستلې، نه یې چېرته کوم د بې حیایي کارونه کړي او نه یې هم بل چاته بدې ردې ویلي دي؛ بلکې هر وخت به یې خلکو ته دا لارښوونه کوله چې:

((ان من خیارکم احسنکم اخلاقا)) (بخاري مسلم)

ژباړه: په تاسو کې هغه خلک غوره دي چې ښه اخلاق ولري.

محمد صلی الله علیه وسلم چې کله حضرت معاذ (رض) بن جبل یمن ته د والي په توګه واستاو؛ نو دا نصیحت یې ورته وکړه چې: ((احسن خلقک للناس)) (موطا امام مالک)

له خلکو سره له غوره اخلاقو نه کار واخله.

دا خبره دې په ذهن کې وي چې یو مسلمان هله په غوره اخلاقو سینګار کیدلی شي چې هغه پر الله جل جلاله دهغه پر رسول محمد صلی الله علیه وسلم او دهغه کتاب قرآن کریم باندې بشپړ ایمان او یقین ولري.

له بده مرغه ددې باوجود چې موږ مؤمنان یو او د الله کتاب قرآن کریم او نبوي سنت خپل ابدي قانون ګڼو مګر بیا هم د اخلاقو په ډګر کې ډېر وروسته پاتې یو. نه مو حکومتي چارواکي په اسلامي اخلاقو سنبال دي او نه مو هم د ټولنې نور قشرونه. نن سبا زیاتره خلک تریو وچولې او متکبر دي، شاخداره، زورونکي او د قهر په لهجه خبرې کوي. همدا لامل دی چې زموږ په هېواد کې زیاتره جګړې د همدغو بداخلاقیو او ترخو تندو جملو د تبادلې پر اساس راپېښېږي، د مثال په توګه چې کله هم د دوه کسانو ترمنځ پر کومه مسئله بحث او مباحثه کېږي؛ نو ددې پرځای چې د اخلاقو په چوکاټ کې د متقابله احترام پر بنیاد خپلې خبرې پرمخ یوسي پر یو بل د سپکو الفاظو د استعمالولو له کبله پر جګړه منتج کېږي. په داسې حال کې چې دغه مسئله پخپلو کې د اخلاقو په چوکاټ کې د خبرو اترو له لارې له څه جګړې او خفګان پرته حل کیدای شوه؛ نو څکه ویلی شوو چې ښه اخلاق او نرمه ژبه د ټولنې د آرامتیا او د مسلمانانو ترمنځ د مینې او اتفاق په راټینګولو کې بنسټیز رول لري، که موږ قرآن کریم او د نبوي سنتو مزاج ته وګورو؛ نو وبه مومو چې ښه خوي او ښه اخلاق د اسلام د سپیڅلي دین روح دی، چېرته چې ښه اخلاق موجود نه وي هلته اصلاً خلک د اسلام له روح نه عاري د حیوانیت ژوند تیروي. کله چې له حضرت عایشه رضی الله عنها نه د محمد صلی الله علیه وسلم د اخلاقو په اړه پوښتنه وشوه؛ نو هغې ورته په ځواب کې وفرمایل: ((کان خلقه القرآن)) یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلق قرآن و؛ نو څکه ویلی شوو چې دچا اخلاق ښه نه وي هغه اصلاً پر قرآن کریم عمل نه دی کړی. پر قرآن کریم د عمل دعوه به هله رښتونی بڼه خپله کړي چې د اخلاق په ډګر کې عملي ثبوت وړاندې کړي.

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل خلیل

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي، یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

تیم اصلاحات و هم‌گرایی، آیینهٔ مردم افغانستان

په ننګرهار کې د اصلاحات او...

د یو شمېر نورو ملاتړو سره ګډون کړی و.
یاده غونډه د سهار په لسو بجو د قرآن الکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پرانستل شوه چې وروسته ملي سرود هم وغږول شو. د غونډې پرانیسته او هرکلیزه وینا په ولسي جرګه کې دننګرهار د خلکو استازی حاجي حضرت علي وکړه او د ننګرهار له ولسونو یې وغوښتل چې ډاکتر عبدالله عبدالله ته رایه ورکړي، نوموړي ډاکتر عبدالله عبدالله د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو یو وړ او مخکښ نوماند وباله.

وروسته د حزب اسلامي د اجرائیه شورا غړی او د هیواد جید عالم دین مولوی جانباز سرفراز په روانو حالاتو هراړخیزه وینا وکړه. مولوي صیب د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي اتحاد د مسلمانانو په ګټه وګڼلو او د شمال او جنوب ترمنځ هغه کرښې چې دهیواد د دښمنانو له لورې راښکل شوې وې ختمې کړې، مولوي سرفراز د ایتلاف د مجاهدینو د یووالي او کامیابي پیلامه وګڼله. نوموړي د حکمتیارصیب په مشرۍ د حزب اسلامي هغه وروستی دریځ، چې د ولسمشریزو ټاکنو له نوماند قطب الدین هلال څخه یې ملاتړ کړی، رد کړ، او ویې ویل چې دا د حکمتیارصیب دریځ نه ده.

هغه وویل: "ښاغلي حکمتیار ته موږ پوره احترام لرو، هغه په پاکستان کې دحزب اسلامي مشر دی او دلته دنظام او بهرنیو قواوو د شتون سره مخالفت لري او موږ په هیواد کې دیو سیاسي ګوند په توګه خپل فعالیتونه پرمخ وړو."

د غونډې لومړی میلمه ویناوال په ولسمشریزو ټاکنو کې د ډاکتر عبدالله عبدالله دویم مرستیال استاد محمد محقق و، استاد د ننګرهاریانو مننه وکړه چې د دومره سترې غونډې د جوړېدو تابیا یې کړې. نوموړي پخپلو خبرو کې وویل چې زموږ ټیم د ملي وحدت سمبول دی، دمجاهدینو ټیم دی او د هغه افغانانو ټیم دی چې د دې هیواد ازادۍ لپاره خپل سرونه نذرانه کړي.

له استاد محمد محقق تر عالمانه وینا وروسته دهمپالنې ټیم لومړی مرستیال انجنیرصیب محمد خان دریځ ته راوبلل شو چې د ناستو خلکو له لورې دنعره تکبیر په ګرمو شعارونو استقبال شو. انجنیر صیب دشهیدانو روح ته تر دعا وروسته دننګرهار د ولسونو مننه وکړه چې په دومره لوی اکثریت کې پدې غونډه کې ګډون کړی. نوموړي دخپلو خبرو په ترځ کې وویل چې؛ راتلونکې ټولټاکنو کې هغه چاته رایه ورکړئ چې دملت د ارادو تمثیل وکړي او هیواد د روان بهران نه وباسي.

انجنیرصیب محمدخان وویل: د مجاهدینو کامیابي به هیواد ته تل پاتې سوله، امنیت او ثبات راولي او یو داسې نظام به رامنځته کړي چې له فساد کرکې بې عدالتۍ او ظلم نه به پاک وي.

انجنیرصیب محمدخان زیاته کړه:
موږ د یوه مسلمان او مجاهد ملت په حیث لکه څرنګه چې ستر ارمانونه لرو، ترڅنګ یې ستر مسؤولیتونه هم لرو، که موږ خپل مسؤولیتونه پر وخت ونه پېژندل فرصتونه به مو په خپل لاس ضایع کړي وي او له خپله ارمانه به ډېر لرې پاتې یو چې بیا به یې هم، هم دنیوي او هم اخروي مسؤولیت موږ ته متوجه وي.

زموږ هیواد د خپل تاریخ له ډېر حساس پړاو نه تیرېږي او دا زموږ دنده ده چې داسې شرایط مهیا کړو چې موږ په کامیابۍ سره له دغه پړاوه عبور وکړو. د اسلام مقدس دین موږ ته د فراست او هوښیارتیا درس راکوي. د اسلام ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: مؤمن له یوې سوړې دوه ځلې نه چیچل کېږي، په دې نبوي حدیث کې یو ښکاره پیغام پروت دی او هغه دا چې مسلمان باید هوښیار واوسي، عظیم الشان قرآن هم موږ ته په (افلا تعقلون، افلا تشعرون، افلا یتدبرون) خطاب کوي، په دغو ټولو قرآني کلماتو کې هم همدا پیغام پروت دی چې مسلمان باید له خپل شعور، عقل، تدبر او هوښیارتیا نه کار واخلي که چېرې تاسې له خپلې کامیابۍ سره او له خپلې یوې روښانه آینده سره مینه لرئ، همدا مو وخت دی، ویښ شئ، کار وکړئ، خپل پیغام او خپل دعوت د هر کور تر دروازې پورې ورسوئ د کمپاین مرحله د همدغه دعوت له پاره ځانګړې شوې ده چې موږ د فرد فرد او هر کور تر وره پورې دا پیغام ورسوو چې موږ د راتلونکو پنځو کلونو لپاره څه پروګرام لرو: موږ په هېواد کې د یوه اسلامي نظام غوښتونکي یو، موږ په خپل هېواد کې د عدالت د تأمین پروګرام لرو،

موږ غواړو تعلیم د هر کور تر دروازې پورې ورسوو، موږ غواړو خپلو ټولو هېوادوالو ته روغتیایي اسانتیاوې مهیا کړو،

موږ غواړو خپلو ځوانانو ته د کار زمینه مساعده کړو

موږ غواړو له هېواده د ظلم ټغر ټول او د مظلوم ګړیوان د ظالم له پنجو خلاص کړو،

موږ غواړو د نارینه، ښځینه او کوچنیانو او ځوانانو هغه حقوق چې د اسلام مقدس دین یې سپارښتنه کوې تأمین کړو،

موږ غواړو د یوه ډېر معقول پروګرام له لارې د خپلو هېوادوالو ګریوانونه د مخدره موادو له قاتلو منګولو وژغورو،

موږ غواړو د غلا، رشوت، اختلاس، قاچاق، اختطاف او ټولو مافیایي حرکتونو مخه ونیسو،

موږ غواړو په هېواد کې ښه حکومتولي راولو او د قانون حاکمیت باوري کړو،

موږ غواړو "معروف" ترویج او د "منکر" مخه ونیسو،

موږ غواړو د جنګونو او وینو تویولو مخنیوی له یوې معقولې او سوله ییزې لارې وکړو او هېواد ته سوله راولو،

موږ غواړو چې خپل زیانمن شوی ملي وحدت تأمین کړو لکه چې زموږ د دریو لویو جهادي ګوندونو او سیاسي قوتونو ائتلاف یې یوه ډېره ښه بېلګه ده،

موږ غواړو د بیان آزادۍ په خپل معقول حد کې وساتو، دفاع یې وکړو او پالنه یې وکړو،

موږ غواړو د هېواد شړېدلې اقتصاد ورغوو،

موږ غواړو خپل جنګ ځپلی هېواد د پرمختګ په لاره روان کړو،

موږ غواړو د خپل هېواد له اوبو نه د انرژۍ د لاس ته راوړلو له پاره مثبته استفاده وکړو،

موږ غواړو د خپل هېواد له معدني زیرمو نه د ګټې اخستنې له پاره لومړی ددغې ګټې اخستنې معقوله زمینه مساعده کړو او بیا ترینه ګټه واخلو،

موږ غواړو له خپلو زراعتي ځمکو نه د معقولې ګټې اخستنې زمینه برابره کړو،

موږ غواړو د خپلو دهقانانو، زمکوالو او باغدارانو ستونزې حل او د یوه هوسا ژوند زمینه ورته مساعده کړو،

موږغواړو له ټولنې نه دخشونت جرړې وباسو.

دا او دې ته ورته موارد چې موږ په خپله تګلاره کې هر یوه ته مشخصې طرحې لرو او کار مو پرې کړی دی.

انجنیرصیب زیاته کړه:
زموږ ټیم چې د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم په نامه یادېږي، ستاسې خپل ټیم او ستاسې په خدمت کې دی، موږ د یوه مسؤولیت او احساس سره ستاسې د خدمت له پاره راپورته شوي یو، دا ټیم له جهادي قوتونو نه جوړ دی، دا اوس ستاسې مسؤولیت دی چې د خپل ټیم متې مضبوطې کړئ، په کمپاین کې یې خاونه سترې کړئ او د انتخاباتو په ورځ په ډېره مینه په انتخاباتو کې برخه واخلئ او خپل ټیم ته رایه ورکړئ، تاسې رایه راکړئ او له موږ نه ان شاء الله یو ښتلې، مرفه او پر خپلو پښو ولاړ اسلامي افغانستان وغواړئ. ستاسې کاندید محترم ډاکترصاحب عبدالله عبدالله، انتخاباتي شمېره (۱) او انتخاباتي نښه یې کتاب او قلم دی.

دغونډې په وروستۍ برخه کې د راتلوونکو ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند ډاکتر عبدالله عبدالله سټیج ته راوبلل شو چې دغونډې د ګډونوالو له لورې دتکبیر په نعرو او ګرمو شعارونو بدرګه شو. ډاکټرعبدالله عبدالله د غونډې ګډونوالو نه دمنتې ترڅنګ پر خپلو راتلونکو پالیسیو وغږېده او دننګرهار ولایت دخلکو سره یې یو شمېر د یارغونې وعدې هم وکړې چې دناستو خلکو له لورې په ګرمو ولولو بدرګه شوې.

نوموړي د کامې او کونړ پر سیندونو د برېښنا ستر بندونه او دارنګه د سپین غر په لمنو کې د کوچنیو برېښنا کوټونو د جوړېدو ژمنې وکړې.

همداراز نوموړي دا هم وویل، چې د بهسود پول به له سره ورغوي او د خوګیاڼو- جلال اباد، جلال اباد- تورخم، جلال اباد- کابل او د یو شمېر نورو پروژو د عملي کېدا ژمنه وکړه.

هغه وویل: "په لغمان کې به یو لوی پوهنتون جوړوم، ځکه لغمانیانو د ډېر وخت راهیسې د پوهنتون د جوړېدو غوښتنه کوله، د کانال پروژه به بیا له سره رغوم."

ډاکترصیب عبدالله عبدالله وویل چې په هېواد کې به د ټولو پوهنتونونو د معیاري کولو لپاره هلې ځلې کوم.

په غونډه کې دنورو ګډونوالو ترڅنګ په ننګرهار ولایت کې دمرکزي دفتر مشر ډاکتر محمد آصف قاضي زاده او په ننګرهار ولایت کې دجمعیت اسلامي ولایتي مشر الحاج شهزاده مظلوم یار دنورستان قومي مشر عبدالصبور توحیدي او نورو جهادي او قومي مشرانو خبرې وکړې او د ملاتړ ډاډ یې څرګند کړ.

په یاده غونډه کې ولسونو هم ژمنه وکړه چې د همپالنې ټیم په کامیابۍ کې به نه سترې کېدونکې هلې ځلې کوي.

یاده دې وي چې یاده غونډه په ننګرهار ولایت کې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د کمپاین لومړنۍ ستره غونډه وه، چې له شلو زرو زیاتو کسانو په کې برخه اخیستې وه.

پلان کاهش نیروهای امنیتی افغان...

ارزیابی جدید در مورد افغانستان نشان می دهد که اگر یک نیروی امنیتی بزرگتر و با مصارف بیشتر برای افغانستان ساخته نشود، امکان دارد این کشور دوباره به پناهگاه امن تروریستان مبدل شود.

در این ارزیابی گفته شده است، نیروهای امنیتی وسیع و وزارت خانه های مربوط آن حد اقل تا سال ۲۰۱۸ میلادی به آموزگاران و مشاوران بین المللی نیاز خواهند داشت.

تجویز اساسی این ارزیابی در مورد سال ۲۰۱۴ میلادی اینست که برنامه، فعلی ناتو که کاهش تدریجی نیروهای امنیتی افغانستان از ۳۸۲ هزار به ۲۲۸ هزار و ۵۰۰ تن است، باید عملی نشود.

اما نورالحق علومی جنرال سابق اردوی افغانستان در صحبت با رادیو آزادی گفت، کاهش نیروهای امنیتی افغانستان توانمندی آنها را صدمه نخواهد زد.

در این ارزیابی تجویز شده است که بر علاوهء ۲۹ هزار پرسونل اضافی، تعداد نیروهای امنیتی افغانستان باید حداقل به ۳۴۴ هزار تن برسد و مصارف آن ها که در حال حاضر ۴.۱ ملیارد دالر است به ۵ تا ۶ ملیارد دالر افزایش داده شود.

اما در صورت دوام وضعیت سیاسی موجود که به ادامهء مساعدت های بین المللی امید برده نمی شود، معلوم نیست افغانستان این همه مصارف را از کجا خواهد کرد؟

نورالحق علومی جنرال سابق اردوی افغانستان، امضای توافقنامهء امنیتی و دفاعی با واشنگتن را در زمینه مهم خوانده، می گوید، بدون این تفاهمنامه حکومت افغانستان در زمینهء تادیهء معاشات پرسونل نیروهای امنیتی اش دشواری خواهد داشت.

این ارزیابی ۳۸۷ صفحه در حالی نشر شده است که ایالات متحدهء امریکا و متحدانش در مورد تعداد نیروهای بین المللی که برای آموزش نیروهای امنیتی افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ در این کشور باقی خواهند ماند بحث می کنند، اما اتخاذ هر نوع تصمیم در این مورد به خاطر امتناع رییس جمهور کرزی از امضای توافقنامهء امنیتی و دفاعی با واشنگتن به تاخیر افتاده است.

افغانستان د پاکستان وروستي...

د یوه او بل هېواد په خاوره کې د تاو تریخوالي عملیات کوي.

ښاغلي سرتاج عزیز له افغان حکومته په کلکه وغوښتل چې د دغه غیر بشري عمل سرته رسوونکو ته سزا ورکړي.

د افغانستان ولسمشرۍ دفتر بي بي سي پښتو ویباڼې ته وویل:

لومړی داچې داسې شواهد نه شته چې وښیي دا کسان د افغانستان په خاوره کې وژل شوي وو.

دویم دا چې له بده مرغه داسې پېښې د هغو ناامنیو پایله ده چې د افغانستان په خاوره د ترهګرو او بنسټ پالو عناصرو له خوا بریدونه کېږي.

دا بیا هم د هغې تګلارې له امله ده چې دا ترهګر چې پاکستان په خپله خاوره کې پناه ورکوي، دغه هېواد یې د یوې وسیلې په توګه کاروي.

د پاکستان داسې تګلارې اوسنی حالت ته زمینه برابره کړې ده.

په بله وینا، څه چې کرې هغه به رېبې.

د ډیورنډ کرښې په دواړو غاړو کې ترهګرو زموږ خاورې یو د بل پر ضد کارولې دي.

افغانستان او پاکستان باید د داسې پېښو د مخنیوي لپاره له ترهګرۍ او بنسټ پالنې سره په ګډه مبارزه وکړي.

حامدکرزی تفاهمنامهء امنیتی را...

تصمیم خواهد گرفت."

اندرس فوګ راسموسن همچنان گفته است: "موقف ما روشن است. انتخاب خوب برای ما اینست که بعد از سال ۲۰۱۴ میلادی ماموریت آموزشی را در افغانستان پیش ببریم."

سرمنشی پیمان ناتو با اظهار اینکه ناتو تلاش می کند در مورد حضور بعد از سال ۲۰۱۴ با افغانستان یک تفاهمنامهء جداگانه را امضا کند، اما این تفاهمنامه نیز تا زمانی نهایی نخواهد شد که تفاهمنامهء امنیتی و دفاعی بین کابل و واشنگتن امضا نشده باشد.

به نوشتهء آژانس خبری اسوشیتدپرس، ماموریت رزمی ایالات متحدهء امریکا در پایان سال ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان خاتمه می یابد، اما امریکا تلاش می کند، حدود ۱۰ هزار نظامی آن کشور در افغانستان باقی بمانند. این نظامیان امریکایی در امر مبارزه با تروریزم و آموزش نیروهای امنیتی افغانستان مساعدت خواهند کرد، اما اگر تفاهمنامه، که شرایط حضور این عساکر را تعیین می کنند، امضا نشود، انتظار می رود که همهء عساکر امریکایی الی پایان سال جاری میلادی از افغانستان خارج شوند.

اندرس فوګ راسموسن می گوید، اگر همچو تفاهمنامهء امضا نشود، مساعدت های بین المللی به نیروهای امنیتی افغانستان نیز متاثر خواهد شد.

سرمنشی پیمان ناتو هوشدار تادیه نشود که اگر معاشات عساکر اردوی ملی و پولیس افغانستان تادیه نشود، این مساله بر امنیت افغانستان تاثیر ناگوار خواهد داشت.

اما آقای راسموسن ابراز امیدواری کرده است که بالاخره تفاهمنامهء امنیتی و دفاعی بین ایالات متحدهء امریکا و افغانستان امضا شود.